د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب سایټ: www.unama-afg.org

## د یوناما د بشر د حقوقو څانګی رئیسي نورا نیلاند، وینا د هغو زندانیانو دخلاصون په اړه چي د سمنګان په ولایت کي د ډله ییزې جنسي تېری په جرم محکوم شوي وو

معلومات مو تر لاسه کړ چي هغه وګړي چي د ۲۰۰۶ کال دافغانستان په شمال کي د سمنګان د ولایت د روی دو آب په ولسوالی کي د یوې مور چي د خپل لادرکه شوی زوی پسی ګرځېده د ډله ییزې جنسي تېری په جرم باندې محکوم وو، له وخت څخه مخکي له بند نه خوشی شوي دي.

دا د ژورې اندیښنې خبره ده. په افغانستان کي د عدالت د تأمین نه پرته د سولې راوستل نا شوني کار دی.

د هغو مجرمینو په حق د استیناف د محکمي له خوا ۱۱ کاله د بند سزا ابرام شوی و، او همدارنګه د افغانستان د سترې محکمي له خوا د تأیید وړ هم ګرځېدلی وو. خو دوو محکوم شویو مجرمانو (د ۲۰۰۸ کال د می په میاشتي کي) وروسته له دې چي دخپل ټاکلي شوي سزا یوه ډیره لږ برخه په زندان کي تېره کړي، بېرته هغه کلي ته راستانه شوي دي چیرې چي د جرم قربانی او د هغې کورنی هلته هستوګنه لري او ژوند تېروي.

دا د ښځو په مقابل کي د خشونت نه ډک دجرمونو نورو لاس پورې کوونکو ته ډیر ناوړه پیغام استوي هغه دا چي هغوی د خپلو کړونو په وړاندې به ځوابده نه اوسي.

په داسي حال کي چي د هغو جنسي تیری کوونکو د خوشي کیدو د حالاتو په اړه ضد او نقیض رپوټونه ترلاسه کېږي، نو صرف نظر د حالاتو نه، دا د جرم د قربانی په مقابل، د هغې د کورنې په مقابل، د هر یو افغان هېوادوال، نر او ښځه چي د یوه قانونپال ملت په هیله شپې او ورځې سبا کوي، یوه ښکاره بې عدالتي ده. داسی بی عدالتی یوازی د جزا څخه د خوندیتوب او د ښځو او نجونو په مقابل کي د تاوتریخوالی او د تیري د زغم د فرهنګ، د لا پیاوړتیا سبب ګرځي.

که چېرې مونږ د پیاوړې افغاني نهادونو په هیله واوسو چي د خپل رعیت د ساتنی او د خدمتونو د وړاندې کولو وړتیا ولري، نو باید مونږ د قانون له حاکمیت نه حراست وکړو. په ټولو قضایاوو کي باید وړ قانوني مراحل بې له کومي استثنا څخه تر سره شي.

مونږ پوهیږو چي افغان چارواکي تصمیم لري چي د دی وګړو د خوشي کیدو د شرایطو په اړه به ځیرنې تر سره کوي، مونږ د دی څخه ستاینه کوو او ټینګار کوو چي چارواکي هغه ټول اړ اقدامونه تر سره کړي تر څو د دی څخه ډاډ تر لاسه شئ چي عدالت پلي کیږئ او د افغان ښځو حقونه د قانون د بشپړه سیوری تر لاندی خوندي ساتل کیږئ.

۲۶ آګست سال ۲۰۰۸